# د پیسو نړیوال وجهي صندوق ته هرکلی نه وایو!




د باداري نوې بڼه

اوس مهال د پیسو نړیوال وجهي صندوق (IMF) د اردن د دولت او غیر رسمي خبرو سره د بیا کتنې دوهمه ګډه ناسته تر سره کوي، چې د اردن د اقتصاد لپاره د خپل اصلاحي پروګرام له لارې بازار موندنه وکړي. زموږ د کتنو پر بنسټ هغه څه چې د پیسو نړیوال وجهي صندوق  په خپله ویبپاڼه کې خپاره کړي دي او سرلیک یې «د اردن او پیسو نړیوال وجهي صندوق په اړه وروستی شوې پوښتنې» ورکړی، غواړو لاندې ټکو ته اشاره وکړو:

**لومړی:** لوستونکو د پیسو نړیوال وجهي صندوق د غونډې په اړه خپلې پوښتنې پرېایښې دي. هلته پوښتنې شوې او د دوی له لورې ځوابونه ورکړل شوي دي. له ځوابونو داسې برېښي، چې د پیسو نړیوال وجهي صندوق خپل ځان دومره لوړ ګڼي لکه د اردن غیر رسمي حاکمان چې وي. دا د پوښتنو له ډول څخه په ښه توګه څرګندېږي، د بېلګې په ډول: د پیسو نړیوال وجهي صندوق نظر د هغو مرستو په اړه څه دی، چې د ځینو خلیجي هیوادونو له لورې یې ژمنه شوې ده او ارزښت یې ۲.۵ میلیارده ډالره دی؟ په اردن کې د وروستیو پېښو په اړه د پیسو نړیوال وجهي صندوق غبرګون څه دی؟ کوم  تدابیر د پیسو نړیوال وجهي صندوق له لورې په پام کې نیول شوي، چې د فساد مخه پرې ونیول شي، روڼتیا زیاته او په اردن کې ښې حکومتوالی ته لاره پرانیستل شي؟

څه ډول یو ځان خوښی دولت په سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو او امنیتي چارو کې دې ډول ښکاره لاسوهنې او په دومره کچه د ځان سپکاوي ته اجازه ورکوي؟  څه وخته دا ډول له سپکاوي څخه ډک چلند په خبرو او معاملو کې دوی ته د منلو وړ ګرځېدلی؟ که چېرته د اردن حکام د پیسو د نړیوال صندوق له لورې دا ډول په ټیټه کچه معاملې او تکبر زغملای شي، د اردن خلک بیا، چې په خپل دین او حیثیت ویاړي د دې ډول بې عدالتی منلو ته تیار نه دي او دوی د شاعر لاندې الفاظ هر مهال په تکرار سره وایي:

ټولې سختی را ته د منلو وړ دي، خو سپکاوی نه!

تر ظلم لاندې د صالحانو ژوند بل څه نه، بلکې وژنه ده

**دوهم:** هغه څوک چې د پیسو نړیوال وجهي صندوق په اړه پوښتنې او ځوابونه لولي، ورته څرګنده به شي چې پر عایداتو باندې د مالیې لګولو پرېکړه مخکې له مخکې شوې ده او د پیسو نړیوال وجهي صندوق غواړي دا مالیه د اردن پر خلکو په جبر سره پلې کړي او له دې سره سره هغه لارې چارې هم وړاندې شوې دي، چې څه ډول دا پرېکړه باید پلې شي او خلک یې منلو ته وهڅول شي.
ځکه نو غوښتنه شوې چې له غیر رسمي څېرو سره باید لیدنه وشي، څو په غونډه کې برخه واخلي او خلک وهڅوي، چې وړاندې شوې حللارې او اقتصادي پروګرامونه ومني. دا چاره هغه مهال په پام کې ونیول شوه، چې خلکو د دې پرېکړو هرکلی ونه کړ. دا د یو داسې هیواد لپاره چې د خپلواکۍ ادعا کوي یو خطرناک پیغام دی، چې د پیسو نړیوال وجهي صندوق متخصصینو ته د غیر رسمي څېرو سره د لیدنې او کتنې اجازه ورکوي. دا څه ډول خپلواکي ده، د امریکا د لاس اله چې هر ډول یې وغواړي لوبولی شي او له هغه چا سره ګوري، ګرځي او قانون پرې تېږي چې د دوی خوښه وي؟ ستاسو (د اردن رژیم) خپلواکي موږ یوازې هغه مهال د ماشومانو او مېرمنو پر وړاندې ولیدله، چې دوی له درعا څخه د اردن لورې ته د ننوتلو پر مهال پرې نه ښودل شول او دوی د بشار او ایران لپاره د یو آسانه ښکار په توګه پرېښودل شول او یا هم د دعوت پر مخلصو حاملینو، چې تاسو د خپلو کورونو څخه وتښتول او د دوی ماشومان مو وځورول، دوی مو زندانیان کړل او هر ډول تورونه مو چې خوښه وه د امنیتي خدمتونو د ادارې له لورې مو پرې ولګول!!
د پیسو د نړیوال وجهي صندوق متخصصین زر ځلې له هغه تش په نامه تروریزم څخه خطرناکه دي، چې تاسو شپه او ورځ خلک ترې وېروی. د پیسو نړیوال وجهي صندوق متخصصین هغه څوک دي، چې اردنیان د دوی له عامه شتمنۍ څخه د خصوصي یا غیر دولتي کولو په نامه بې برخې کوي او پر خپلو پانګوالو یې پلوري. دوی هغه څوک دي، چې سترګې یې د بېوزلو د جېبونو په لور کړې او غلا ته یې په تمه دي. دوی هغه څوک دي چې په وحشي ډول زموږ د اولادونو تعلیمي نصاب تر برید لاندې نیسي، څو مو اولادونه فاسد کړي او دوی موږ ته د پورونو یو داسې نسبت راوړ، چې د ناخالصو کورنیو تولیداتو ۹۴ سلنه جوړوي، د هغو فاسدو چارواکو په مرسته څوک چې د دوی له لورې په دولتي ادارو کې په دې موخه ګومارل شوي، چې ادارې فاسدې او خرابې کړي او بیا هر څه د دوی لاسونو ته د یو آسانه ښکار په بڼه ولوېږي.
**درېیم:** موږ هغو غیر رسمي څېرو ته، چې د پیسو نړیوال وجهي صندوق متخصصین غواړي ورسره ووینې، یادونه کوو. موږ تاسو ته وایو، چې تاسو باید داسې دریځ ونیسئ، څو الله سبحانه و تعالی او د هغه رسول (صلی الله علیه وسلم) خوښ شي او د پیسو د نړیوال وجهي صندوق له متخصصینو سره د ناستې کولو څخه ډډه وکړئ. د هغه څه څخه مه وېرېږئ، چې دوی غواړي تاسو ور څخه ووېروي او د دوی په وینا که چېرته تاسو یې ونه منی، نو ستاسو هیواد ته به فقر لوی ګذار ورکړي. په دې اړه الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**﴿الشَّيْطَانُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُم بِالْفَحْشَاءِ وَاللَّهُ يَعِدُكُم مَّغْفِرَةً مِّنْهُ وَفَضْلاً وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ﴾**

[البقره:۲٦٨]

*ژباړه: شیطان تاسو له بېوزلۍ څخه وېروي او شرمناک چلند غوره کولو ته مو هڅوي، خو الله سبحانه و تعالی خپلې ورکړې او پېرزوینې ته تاسې هیله‌من کوي، ځکه الله سبحانه و تعالی د ډېر پراخ لاس څښتن او پوه دی.*

د دوی دروغجنو ژمنو ته غوږ مه نیسئ، ځکه الله سبحانه و تعالی تاسو ته د داسې څېرو په اړه خبرداری درکړی دی او دی سبحانه و تعالی فرمايي:

**(يَعِدُهُمْ وَيُمَنِّيهِمْ وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطَانُ إِلَّا غُرُورًا)**

[النساء:۱۲۰]

*ژباړه: هغه له دې خلکو سره ژمنې کوي او په هیلو کې یې اچوي، خو له دوی سره د شیطان ټولې وعدې له غولولو پرته نور څه نه دي*

د خپلو ځانونو او ولس لپاره د وياړه ډک دریځ ونیسئ او په دې سره ښکېلاکګرو ته ور وښایاست چې دا امت په خپلو ارزښتونو او د دوی له لورې په رښتیني موقف نیولو سره پايي.

الله (سبحانه و تعالی) فرمايي:

**(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ * وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَّا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنكُمْ خَاصَّةً وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ)**

(الانفال:۲۴-۲۵)

*ژباړه: اې مومنانو! د الله او د هغه د پېغمبر بلنې ته لبيك ووایاست چې کله پېغمبر تاسو ته د هغه شي په لورې بلنه درکړي، چې تاسې ته ژوند ښونکی دی . پوه شئ چې الله د انسان او د هغه د زړه تر منځ حایل دی او د هماغه لورې ته به تاسو ورغونډ کړای شی. له هغې فتنې څخه ځان وژغورئ چې د هغې ناوړه اغېزه به په ځانګړې توګه یوازې پر هغو خلکو پورې محدوده پاتې نه شي، چې په تاسو کې چا ګناه کړې وي او پوه شئ چې الله سخت سزا ورکوونکی دی.*

**حزب التحریر- ولایه اردن مطبوعاتي دفتر**

**ژباړه: عبدالله لطفي**

**۱۴۳۹هـق، د ذوالقعدې ۲ مه**

**۲۰۱۸م، د جولای ۱۵ مه**